# PASHTO

## د کرونا وایرس لاربښود
## ( ژبه پښتو ) Coronavirus (Covid19)

دا یو نوی ناروغي ده چه کیدای شی په سږی او هوایی لاری باندی تاثیر وکړي او دکرونا وایرس له امله رامینځ ته کیږي.

### که تاسو لاندی ناروغی ولری:

- نوی دوامداره ټوخی
- د حرارت درجه لوړ (37.8 یا لوړ وي )

تاسو باید 7 ورځو لپاره په کور کښی پاتی شی.

### په کور کی پاتی کیدو په اړه مشوره

- کاراو مکتب او داکتر او درملتون یا شفاخانی ته مه ځی
- هرشی بیل استفاده وکړی او د استفادی نه پس هغه ومینځی
- له نورو کسانونه ځان لری ونیسی
- خواړه او دوایی تاسو ته در لیږل کیږي
- د میلمانه د استقبال نه ډډه وکړی
- له ځارویو نه ځان لری وساتی

### زه کله له ان اچ اس 111 سره اړیکه ونیسم؟

- کله چی تاسوته دا احساس پیدا شو چی ددی ناروغتیا د نښو سره مقابله نشی کولای
- ستاسو حالت خرابیږي
- ستاسو نښی پس د 7 ورځونه نه ښه کیږي

Version 1 [13.03.2020]

## څنګه د 111 ان اچ اس سره اړیکه ونیسم؟

تاسو کولای شی چی د 111 ان اچ اس د وایرس دآنلاین دخدماتو نه استفاده وکړی او د بل ګام په هکله معلومات ترلاسه کړی؛ او که انترنت ته لاسرسی نه لری نو 111ته ټلفون وکړی.( دا شمیره مفته ده).

## که د خپل مهاجرت د وضعیت په اړه اندښنمن اوسیږم نو بیا څه کیږي؟

د ان اچ اس ټول خدمات ټولو خلکو ته مفت دی او دمهاجرت وضعیت په انګلستان په دی کی هیڅ تاثیر نه لري. دی کی د کرونا وایرس آزمینه او تداوي دواړه شامل دي حتی که دهغی نتیجه منفی هم وي مفته ده؛ او ددی په هکله وزارت داخلی ته خبر نه وکول کیږي.

## څنګه دکرونا وایرس د خپریدو مخنوی کولای شو؟

- کوښښ وکړی خپل لاسونه لږتر لږه 20 ثانیو لپاره ومینځی
- که ددی ناروغتیا نښی لیدل کیږي نو کور کی پاتی شی او مشورو ته غوږ کیږدی

https://www.nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/

د نورو معلوماتو لپاره د ان اچ اس ویب سایت ته مراجعه وکړی